**د افغانستان په لویو ښارونو کې د هوا ککړتیا عوامل او د هغو حللارې**

مخکې له دې چې مونږ د هوا د ککړتیا او بیا د افغانستان په لویو ښارونو کې د هوا د ککړتیا په لاملونو، اغېزو او یا حلالرو وغږېږو، باید لومړی پوه شو چې د هوا ککړتیا څه ته وایي؟

:د هوا ککړتیا
هوا د غازونو یو ترکیب دی، که له هغې ترکیب څخه یو غاز یې یا کم یا ډېر شي، هوا ککړېږي .همدارنګه که کوم بل نوی غاز او .یا هم ذرې هوا ته داخلې شي، دلته هم د هوا ککړتیا رامنځ ته کېږي
.د هوا د ککړتیا لاملونه هم انساني دي او هم طبیعي
:د هوا ککړتیا دوه ډولونه لري
:دننی د هوا ککړتیا -
.دا د کور دننه د هوا ککړتیا ته وایي
:باندنی د هوا ککړتیا -
.په اتموسفیر کې د هوا ککړتیا ته وایي
.دننی د هوا ککړتیا د باندنی هوا ککړتیا څخه لس ځله ډېره خطرناکه ثابتېدلې شي

:لنډه تبصره
د افغانستان د لویو ښارونو د هوا ککړتیا د نورې نړۍ د هوا له ککړتیا سره توپیر لري، لومړی خبره دا چې بدبختانه د افغانستان د لویو ښارونو د هوا د ککړتیا غټ لامل د لسیزو راپدیخوا مسلسل جنګ دی چې هیڅ پای نه مومي .دوهم دا چې د افغانستان د لویو ښارونو د هوا ککړتیا موسمي ده، لکه څرنګه چې په ژمي کې یخني ډېرېږي نو خلک د ځانونو او کورونو د ګرمولو په کوښښ کې .وي، دوی بیا بېکاره د سون مواد کاروي چې هوا ته خطرناک ګازونه تولیدوي او د هوا ککړتیا رامنځ ته کوي

!د افغانستان د لویو ښارونو د هوا د ککړتیا عوامل
که مونږ په مثال کې کابل واخلو نو د کابل ښار د یو ملیون انسانانو او 75000 موټرونو لپاره جوړ شوی و، خو اوسمهال په کې له پنځو ملیونو انسانانو او څلور سوو زرو ډېر موټرونو وجود لري .مونږ ویلی شو چې د افغانستان د لویو ښارونو د هوا د ککړتیا له .ستر لاملونو څخه د انسانانو نفوس او د موټرو شمېر سر کې ځای لري
د افغانستان د لویو ښارونو د هوا ککړتیا طبیعي او انساني ده، خو طبیعي یې په کمه اندازه او انساني ونډه بیا پراخه ده .په طبیعي لاملونو کې مونږ ویلی شو چې د ژوندیو موجوداتو د مړو جسدونو خوړنه د مایکرو اورګانېزم یا د وړو او په سترګو نه لیدونکو ژوندیو موجوداتو په واسطه چې دا هوا ته خطرناک ګازونه لکه میتان او نور تولیدوي .دوهم طبیعي لامل مونږ د حرارت د درجې .لوړوالی هم ښودلی شو، هغه داسې چې په دې سره له ککړې خاورې او ککړو اوبو څخه خطرناک ګازونه تولیدېږي
په انساني لاملونو کې چې د افغانستان د لویو ښارونو د هوا د ککړتیا اصلي لامل بلل کېږي، دغه راځي :د انسانانو او موټرونو له حده ډېر شمېر، د تېلو د کیفیت ټیټوالی، د سون د موادو د کیفیت ټیټوالی، په ازاده فضا کې د ګندګۍ غورځول او پرېښودل، د خلکو له خوا .د ګندګۍ سوځول، صنعتي بوختیاوې، او په یوه وړه اندازه د اوسپنې د ویلې کولو او جوړولو فابریکې

!حللارې
:وړاندیزونه او د حللارې مونږ په دوه ډوله ویشلی شو
انفرادي مسولیت :د انرژۍ او برېښنا کم او یا هم په حد کې کارول، چې که څومره مونږ کمه برېښنا وکاروو په هماغه اندازه د - برېښنا په تولیدوونکي آلې فشار کم راځي چې دا په همدومره اندازه د هوا د ککړتیا د مخنیوي لامل کېږي؛ دندې، کار او یا هم ښار ته چکر وهلو لپاره په شخصي موټر کې د تګ پر ځای د صحي ټرانسپورټ کارول لکه پلی تګ، بایسکل باندې تګ، عمومي بسونو کې تګ او نور؛ د دننی ککړتیا مخنیوی، ځکه انسانان 80 %وخت په کور تېروي، په دې کې د کور پاک ساتل، د رنګ کولو وخت کې صحي رنګونه کارول، د بېکاره پر ځای سم او غوره د سون مواد کارول، د سګرټو او نورو نشو څخه ځان ساتل؛ په ازاده فضا کې ګندګۍ د سوځولو مخنیوی؛ په فردي توګه خلکو او عوامو ته په دې اړه عامه پوهاوی ورکول او په اخره کې په فردي توګه د ونو .کرل او حفاظت
د حکومت مسولیتونه :په فابریکو او شرکتونو د مالیې ایښودل او که چېرې د هوا د ککړېدو په ډېره اندازه لامل وي نو د مالیو - ورکول چې دا کمپنیانو ته اجازه ورکوي څو تر هغې اندازې کاربن ډای اکساېډ تولید Pollution permit لوړول؛ کمپنیانو ته د کړي چې تاواني نه وي، کټه به یې دا وي چې کمپنیانې به تولید هم کوي او د هوا د ککړتیا لامل به هم نه ګرځي، که ګرځي هم نو په هاغه اندازه چې حکومت ورته ټاکلې وي؛ د بدیلو انرژیانو رامنځ ته کول لکه د سولري برېښنا پروژې پیل کول؛ د هوا د ککړتیا په

برخه کې د نوي عصر سره سم قوانین رامنځ ته کول او بیا یې عملي کول؛ د عامه پوهاوي پروژې کول ترڅو عوام پوه شي ځکه زمونږ یو تر ټولو لویه ستونزه داده چې عوام مو د هوا د ککړتیا او په عموم کې د چاپېریال د ککړولو له اغېزو او تاوانونو نه دي خبر؛ او په اخره کې د ونو کرلو او بیا یې د حفاظت لپاره سترې سترې پروژې پیل کول